سپتمبر
۲۰۲۶

او پناه ترلاسه کونکو لپاره یو لارښود

که تاسو یو کډوال یاست یا د پناه تصویب شوی حالت لرئ، نو د میډیکیډ بدلونونه را روان دي. دا هغه څه دي چې باید ترې خبر شئ.

- تاسو به په اکتوبر 1، 2026 د میډیکیډ لپاره وړتیا له لاسه ورکړئ.
- مګر، د پناه یا کډوالۍ حیثیت له ترلاسه کولو وروسته، تاسو 12 میاشتو لپاره د کډوالو د طبي مرستو (Refugee Medical Assistance) پوښښ لپاره وړ یاست. تاسو کولی شئ د غوښتنلیک ورکولو لپاره خپل ځایي DSS دفتر سره اړیکه ونیسئ. نور معلومات دلته شتون لري.
- که تاسو په رسمي توګه یو کډوال یا پناه ترلاسه کونکي یاست او اوس مو دایمي قانوني استوګنه (ګرین کارت) ترلاسه کړې وي، نو د ګرین کارت له ترلاسه کولو وروسته (پرته د انتظار له کومې مودې) د میډیکیډ لپاره سمدستي وړ ګرځئ.
- که تاسو د وړتیا ټول نور معیارونه پوره کوئ، نو د کډوالۍ یا د پناه ترلاسه کونکي وضعیت ترلاسه کولو سره سم د TANF (د کار پر بنسټ نغدي مرستې) او اضافي امنیتي عاید (Supplemental Security Income) لپاره وړ ګرځئ. د ګرین کارت له ترلاسه کولو وروسته، تاسو سمدستي SNAP (د خوړو د مرستې کوپنونو) لپاره هم وړ ګرځئ.
  - کډوال په متحده ایالاتو کې د یو کال تیرولو وروسته ګرین کارډ لپاره غوښتنه کولی شي.
  - پناه ترلاسه کونکي په متحده ایالاتو کې د یو کال تیرولو وروسته د پناه تصویب شوي حالت سره د ګرین کارت لپاره غوښتنه کولی شي.

د ګرین کارت منظورۍ لپاره د انتظار موده کیدی شي اوږده وي؛ نو که تاسو تراوسه د ګرین کارت ترلاسه کولو پروسه نه ده پیل کړې، باید ژر تر ژره له یوه وکیل سره مشوره وکړئ.

هغه کډوال او پناه ترلاسه کونکي، چې امیندواره میرمنې یا له 19 کالو څخه کم عمره ماشومان دي، به د اکتوبر 1، 2026 وروسته هم د میډیکیډ لپاره وړ پاتې شي، حتی که خپل ګرین کارتونه یې ترلاسه کړي هم نه وي.

- که تاسو کډوال یا پناه ترلاسه کونکي یاست او ګرین کارت مو لا نه دی ترلاسه کړی، نو د لاندې پروګرامونو لپاره وړ یاست، په دې شرط چې د وړتیا ټول نور معیارونه پوره کړئ:
  - د Healthcare.gov لخوا د روغتیا پوښښ (مګر یوازې تر دسمبر 31، 2026 پورې)
  - د ښځو، کوچنیانو او ماشومانو د تغذیې پروګرام (WIC)
  - د ښوونځي لنچ (د غرمې ډوډۍ) او د سهار چای
  - د ټولنیز امنیت معلولیت او ټولنیز امنیت تقاعد

د ارزانه یا بې لګښته روغتیایي پاملرنې/نسخه شویو درملو موندلو-، د ګټو لپاره غوښتنه کولو، د ځایی خواړو یا د کور اختیارونو موندلو او کې زموږ د روغتیایي bit.ly/NCJCHealthResources نورو لپاره، په سرچینو پاڼه وګورئ

خپلې ګټې وپیژنئ:

د کډوالو مهاجرو



د کډوالو او پناه غوښتونکو د حقونو ډله د کډوالو پلوه عامه ټکلارو ته د ودې ورکولو او ستراتیژیک حقوقي استازیتوب د وړاندې کولو له لارې د کډوالو او پناه غوښتونکو حقونه ساتي او دفاع ترې کوي.

NORTH CAROLINA JUSTICE CENTER

PO Box 28068 | Raleigh, NC 27611
(919) 856-2570 | www.ncjustice.org